# د افغانستان اسلامي جمهوریت

# د پوهنې وزارت

**شورای علمی و بورد استندردها**

**ریاست طرح و تحقیق قوانین، مقرره ها و لوایح**

# (۲)

# د پوهنې د لایحو اوکړنلارو ټولګه

# مجموعۀ لوایح و طرزالعمل های معارف

د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د ثبت
او جواز صادرولو کړنلاره

**د خپرېدو نېټه: د۱۳۹۱ هـ. ش کال د (     ) دمیاشتې (   )**

طرزالعمل ثبت و صدور جواز
مؤسسات تعلیمی خصوصی

**تاریخ نشر : (   ) ماه (     ) سال ۱۳۹۱ هـ. ش**

# فهرست مندرجات

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| | منظوری وزیر معارف | ۱ |
| مادهٔ اول | مبنی | ۲ |
| مادهٔ دوم | اهداف | ۲ |
| مادهٔ سوم | اصطلاحات : | ۲ |
| | ۱- جوازفعالیت: | ۲ |
| | ۲- ثبت : | ۲ |
| | ۳- جواز سرمایه گذاری خصوصی: | ۲ |
| | ٤- فورمه ... | ۳ |


## فصل دوم

## تکمیل فورمه ها، طی مراحل و ثبت مؤسسات تعلیمی خصوصی


مادهٔ چهارم.......... ۳

مادهٔ پنجم .......... ۴


## فصل سوم

## تثبیت درجه مؤسسات تعلیمی و تعیین داخله و فیس


مادهٔ ششم.......... ۴


## فصل چهارم

## احکام نهایی


مادهٔ هفتم    انفاذ .......... ۴

بسم الله الرحمن الرحیم

**د پوهنې د وزیر منظوري**

د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د ثبت او جواز صادرولو کړنلاره چې د پلان او ارزونې د لوی ریاست له لوري تسوید، د قوانینو، مقررو او لایحو د طرحې او څېړنې په ریاست کې تدقیق، د پوهنې د علمي شوری او د سټنډرډونو بورډ په عمومي غونډه کې تأیید او د پوهنې وزارت د رهبری هیئت د۱۳۹۱کال د غویي د۱۹ نېټې په غونډه کې په څلورو فصلونو او اوو مادوکې تصویب شوې ده، منظوروم.

**منظوری وزیر معارف**

طرز العمل ثبت و صدور جواز مؤسسات تعلیمی خصوصی که از طرف ریاست عمومی پلان و ارزیابی تسوید، در ریاست طرح و تحقیق قوانین، مقرره ها و لوایح تدقیق، در مجلس عمومی شورای علمی و بورد استندردهای معارف تأیید و در جلسهٔ مؤرخ ۱۹ ثور سال۱۳۹۱ هیئت رهبری وزارت معارف در چهار فصل و هفت ماده تصویب گردیده، منظور میدارم.

فاروق وردګ

د پوهنې وزیر

## د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د ثبت او جواز صادرولو کړنـلاره

### لومړی فصل
### عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده**

دغه کړنلاره د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د مقررې د پنځه پنځوسمې مادې د حکم پربنسټ د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د جوړولو، جواز ورکولو او ثبت د پړاوونو د تنظیم په موخه جوړه شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده**

ددې کړنلارې موخې عبارت دي له:

۱- د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د مقررې په دویمه ماده کې د راغلو موخو د پلي کېدو آسانول.

۲- د خصوصی ښوونیزو مؤسسو د جواز ورکولو او ثبت د پړاوونو څرګندول.

**اصطلاحګانې**

**دریمه ماده**

په دې کړنلاره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې معناوې لري:

**۱- د فعالیت جواز:** هغه سند دی، چې د خصوصی ښوونیزو مؤسسو د مقررې له احکامو سره سم د خصوصی ښوونیزو مؤسسو د تأسیس او جوړولو لپاره کورنیو او بهرنیو، حقیقي او حکمي اشخاصو ته د پوهنې وزارت د واکمنې اداري له خوا ورکول کیږي.

**۲- ثبت:** دپوهنې وزارت دپلان او ارزونې د لوی ریاست اړوند د اندراج په کتاب کې د خصوصي ښوونیزو مؤسسو دفعالیت دجواز له درجولو څخه عبارت دی.

**۳- د خصوصي پانګې اچونې جواز:** هغه سند دی چې خصوصي متشبث ته د افغانستان د پانګې اچونې

## طرز العمل ثبت و صدور جواز مؤسسات تعلیمی خصوصی

### فصل اول
### احکام عمومی

**مبني**

**مادهٔ اول**

این طرزالعمل براساس حکم مادهٔ پنجاه وپنج مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی به منظور تنظیم مراحل ایجاد، صدور جواز و ثبت مؤسسات تعلیمی خصوصی وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم**

اهداف این طرزالعمل عبارت اند از:

۱- تسهیل تطبیق اهداف مندرج مادهٔ دوم مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی.

۲- توضیح مراحل صدور جواز و ثبت مؤسسات تعلیمی خصوصی.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم**

اصطلاحات آتی دراین طرزالعمل معانی ذیل را افاده می کند:

۱- **جوازفعالیت:** سندیست که برای اشخاص حقیقي و حکمی داخلی و خارجی غرض ایجاد وتأسیس مؤسسات تعلیمی خصوصی مطابق احکام مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی، از طرف اداره ذیصلاح وزارت معارف صادر میشود.

**۲- ثبت :** عبارت است از درج نمودن جواز فعالیت مؤسسات تعلیمی خصوصی در کتاب اندراج مربوطه در ریاست عمومی پلان و ارزیابی وزارت معارف.

۳- **جواز سرمایه گذاری خصوصی:** سندی است که برای متشبث خصوصی طبق احکام قانون

د قانون له مخې له خصوصي پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداري (آیسا) له لوري صادریږي.

**۴- فورمه:** له هغه سند څخه عبارت دی، چې د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د مقررې له لارښوونو سره سم د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د جوړولو د اړتیا وړ معلومات پکې لیکل کیږي او د اړوندو او واکمنو مراجعو له تأیید څخه وروسته د اعتبار وړ ګرځي.

**دویم فصل**

**د فورمو بشپړول، د پړاوونو تر سره کول او د خصوصي ښوونیزو مؤسسو ثبتول**

**څلورمه ماده**

**۱-** مؤسس د خصوصي ښوونیزې مؤسسې د جوړولو په منظور د پوهنې اړوند ریاست ته مراجعه کوي، د خصوصي ښوونیزې مؤسسې د جوړلو لپاره اړونداسناد او فورمې لاس ته راوړي، که چیرې مؤسس د مؤسسې د جوړولو په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا ولري اړوند ریاست به لازم توضیحي معلومات ورکوي.

۲- مؤسس، د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ د ۲۳ نیټې (۱۰۳۰) ګڼه مقرره او ټول اسناد لولي او فورمې بشپړوي او له غوښتنلیک سره یې د پوهنې اړوند ریاست ته تسلیموي.

۳- د پوهنې اړوند ریاست د مربوطه تدریساتو د استازي، د پلان د مدیریت د استازي او د خصوصي ښوونځیو د مدیریت د استازي په ګډون درې کسیز هیئت ته دنده ورکوي چې د خصوصي ښوونیزو مؤسسو په مقرره کې د مؤسسې د جوړولو د شرطونو او دآسانتیاوو د برابرولو په اړه د راغلو حکمونو د پلي کولو په هکله څیړنې تر سره او خپل نظر څرګند کړي.

۴- د پوهنې ریاستونه د اسنادو له بشپړېدو څخه وروسته، هغه تأیید، لاسلیک او مهر کوي، ټول اسناد په رسمي توګه د وروستیو څیړنو لپاره د پلان او

سرمایه گذاری افغانستان از طرف ادارهٔ حمایه سرمایه گذاری افغانستان (آیسا) صادر میگردد.

**۴- فورمه:** عبارت از سندیست که معلومات مورد ضرورت مبنی بر ایجاد مؤسسات تعلیمی خصوصی مطابق به هدایات مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی در آن درج و بعد از تأیید مراجع ذیربط و ذیصلاح مدار اعتبار میگردد.

**فصل دوم**

**تکمیل فورمه ها، طي مراحل و ثبت مؤسسات تعلیمی خصوصی**

**مادهٔ چهارم**

۱- مؤسس، به منظور ایجاد مؤسسهٔ تعلیمی خصوصی به ریاست معارف مربوطه مراجعه نموده، اسناد و فورمه های مربوط به ایجاد مؤسسهٔ تعلیمی خصوصی را به دست می آورد، در صورتیکه مؤسس ضرورت به معلومات بیشتر در مورد ایجاد مؤسسه داشته باشد ریاست مربوطه معلومات توضیحی لازم برایش میدهد.

۲- مؤسس، مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی شماره (۱۰۳۰)مؤرخ ۲۳ سرطان ۱۳۸۹ و سایر اسناد را مطالعه وفورمه ها را تکمیل وضم در خواست به ریاست معارف مربوطه تسلیم مینماید.

۳- ریاست معارف مربوطه هیئت سه نفری را که مشتمل است برنماینده تدریسات مربوطه، نماینده مدیریت پلان ونماینده مدیریت مکاتب خصوصی توظیف مینماید تا تطبیق احکام مندرج مقرره مؤسسات تعلیمی خصوصی رامبنی بر شرایط ایجاد وفراهم آوری تسهیلات، مورد بررسی قرار داده ابراز نظر نمایند.

۴- ریاست های معارف بعد از حصول اطمینان از تکمیل اسناد، آنرا تأیید، امضاء و مهر نموده تمام اسناد را به طور رسمی غرض بررسی نهایی به

ارزونې لوی ریاست ته استوي.

۵- د پلان او ارزونې لوی ریاست د اړوندو زدکړو د ریاستونو په مرسته دنده لري چې د ټولو وړاندې شوو اسنادو د سموالي اوناسموالي پلټنه وکړي تر څو د وړاندې شوو پاڼو د نیمګړتیاوو د نشتوالي په صورت کې وړاندې شوي پاڼې د منظورۍ په غرض د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

۶- له منظورۍ څخه وروسته له مؤسس څخه د حق الامتیاز فیس اخیستل کېږي او د فعالیت جوازلیک ورته صادر او د پلان او ارزونې لوی ریاست د اندراج په کتاب کې ثبتیږي.

**پنځمه ماده**

د فورمو بڼه، څرنګوالی او د فورمو د ډکولو لارښود د پلان او ارزونې ریاست له خوا چمتوکیږي.

## دریم فصل

## د ښوونیزو مؤسسو د درجې تثبیت او د داخلې او فیس د اندازې ټاکل

**شپږمه ماده**

د پوهنې وزارت له خوا د ښوونیزې مؤسسې د درجې د تثبیت، حق الشمول (داخلې) او حق الاجرت (فیس) د اخیستلو په اړه د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د مقررې د نهه دېرشمې مادې له دویمې فقرې سره سم ځانګړې کړنلاره جوړیږي.

## څلورم فصل

## وروستني حکمونه

**اوومه ماده**

دغه کړنلاره په څلورو فصلونواو اوو مادوکې چمتوشوې ده، د پوهنې د لایحو او کړنلارو په ټولګه کې ترخپرېدو وروسته نافذیږي.

د دغې کړنلارې په نافذېدو سره، په دې اړه پخوانۍ کړنلاره لغو ګڼل کیږي.

ریاست عمومی پلان و ارزیابی ارسال مینماید.

۵- ریاست عمومی پلان و ارزیابی به همکاری ریاست های تدریسات مربوطه مکلف است از صحت و سقم تمام اسناد ارائه شده وارسی نموده درصورتیکه نواقص یا خلا در اوراق ارائه شده موجود نباشدغرض اخذ منظوری به مقام وزارت تقدیم نماید.

۶ – بعد از منظوری، فیس حق الامتیاز از مؤسس اخذ و جواز نامه فعالیت صادر و در کتاب انداراج در ریاست عمومی پلان و ارزیابی به ثبت میرسد.

**مادهٔ پنجم**

نوعیت، چگونگی و رهنمود خانه پری فورمه ها از طرف ریاست پلان و ارزیابی ترتیب میگردد.

## فصل سوم

## تثبیت درجه مؤسسات تعلیمی وتعیین اندازهٔ داخله وفیس

**مادهٔ ششم**

از طرف وزارت معارف جهت تثبیت درجهٔ مؤسسه تعلیمی، اخذ حق الشمول (داخله) وحق الاجرت (فیس) مطابق فقره دوم مادهٔ سی و نهم مقررهٔ مؤسسات تعلیمی خصوصی، طرزالعمل جداگانه وضع می گردد.

## فصل چهارم

## احکام نهایی

**مادهٔ هفتم**

این طرزالعمل در چهار فصل و هفت ماده ترتیب شده است، بعد از نشر در مجموعهٔ لوایح وطرزالعمل های معارف نافذ میگردد.

با انفاذ این طرزالعمل، طرزالعمل سابقه دراین مورد ملغی پنداشته میشود.